# نړیـــــــــوال ادبیــــــات

## (دولتړ ژوند ته یوه لنډه کتنه)

ژباړنه: استاد شیرشاه همدرد

**دلیکوال لنډه پیژندنه**



**زده کړه :** د پښتو ادبیاتو ماستر

شیرشاه همدرد د الحاج ګل جان زوی،په ۱۳۵۳ ل – کال د ننګرهار د بهسودو په ولسوالۍ کې وزیږید،له ادب او فرهنګ سره یې مینه په فطرت کې اخښل شوی وه.

دی لا دمنځنې ښوونځې زده کوونکې و،چې له شعر اوادب سره یې دژورې مینې له امله د ښوونځې په ځانګړو غونډو کې پر دریځ را څرګند شو.

دده فطري جرءت او استعداد دې لا ډیر وهڅاوه او دویاندې په فن کې د ښوونځې ښوونکو او دده ټولګیوالو هڅونې دی د یو فعال او باجرته ویاند په توګه راوځلاوه.

په ۱۳۶۹ کال کې کله چې په ټول هیواد د ناپایه جګړې سیورې خپور و، دی د ننګرهار پوهنتون دادبیاتو پوهنځې په پښتو څانګه کې د زده کړې لپاره کیناست او خپل فطرې استعداد او ذوق خړوبونې ته یې لا ډیره مخه پرانیستل شوه.

په ۱۳۷۳ کال کله چې دی د ننګرهار پوهنتون څخه په اعلی درجه فارغ شو، نو پر هیواد د ویر، وحشت، ډار، وژنو، وهنو او تړنو یو سراسري سیورې خپور و، دخپل اسکیرلي، نتلي او ځپلې ټولنې د محرومو خو مقاومو خلکو د غبږ اوچتولو په موخه یې ژورنالیزم ته مخه وکړه او ادبیات، فرهنګ او ژورنالیزم یې په یو وریښمین ادبي مزي سره وتړل او چې پر هیواد د یو ملي بدلون او اوښتون څپه راواوښته ، نو دی د ژورنالیزم په ډګر کې نومیالی شو.

په دغه ډګر کې دی هم د نورو غوندې دی هم وحشت او دهشت ، ویرې اوترهې په لاسونو او ګواښونو وویرول شو، وډار کړای شواو وځپل شو، خو دده ذهن ،فکر او قلم نه یوازې داچې پڅ نه شو ، بلکې لا ډیر تیره شو او دریغ یې کلک او مقاوم شو.

نه یې د زندانونو پروا وساتله او نه یې د ویرې او ډار ... په ډاډه زړه یې د خپل ولس د غبږ اوچتولو توغ په لاس کې رپانده وساته ، سره له دې چې ژورنالیزم دده ادبې فعالیتونو لږ څه ټکنې کړل،خو دادی د لویو او نویو ادبي زیږونو

او پنځونو لپاره دده د خلاق فطرت یوازې دمه اوساه اخیستنه وه.

اوس چې لږ له ساه ډوبې چاپيريال نه راوتلی،نو دادی خپل اصلي رسالت او مسوولیت ته بیا هڅيدلی، دکتابونو په لیکنو ، د سفرنامو ، خاطرو ،یاداشتونو په خوندې کولو او دخپل زړه غږ د خپل ولس او خلکو سره په شریکولو خپل ادبي مسولیت سرته رسوي .

د (نړیوال ادبیات (دولټر ژوند ته یوه لنډه کتنه)دده د وروستیو پنځونو بیلګه ده، وايي چې زده کړه له کوره ترګوره پکار ده، ښاغلی همدرد اوس اوس د پښتو ژبې ا وادبیاتو دماسټری زده کړې بشپړې کړي او د ماسټر په سویه ټولنې د خدمت لپاره وړاندې شوی، زه یې داادب ، فرهنګ ، ژورنالیزم او کولتوري پراختیا په ډګر کې تر دې دسترو بریاوو هیله من یم.

په درنښت

په اسلام او پښتونولۍ مین

محمد داود وفا

## دکتاب ځانګړنې :

=========================

دکتاب نوم : نړیوال ادبیات (دولتېر ژوند ته یوه لنډه کتنه )

لیکوال : استاد شیرشاه همدرد

اړیکې : ۰۷۰۸۱۹۸۳۰۲

**Sh.hamdard@yahoo.com**

کمپوز : پخپله لیکوال

ډیزاین : ډاکټر انتظاراحمد همدرد

چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

انلاین خپرونکې : کتابتون

# مشهور فرانسوي فیلسوف ولټر

## سریزه :

نړیوالو ادبیاتو کې د هغو ادیباتو، لیکوالو او شاعرانو ژوند او فن تر بحث لاندې نیول کېږي، چې پیغام یې سیمه ییز نه وي، بلکې د نړۍ لپاره پیغام ولري، ځینې خلک د نړۍ ادبیاتو تر سرلیک لاندې د دغسې مشاهېرو ژوند او فن وړاندې کوي، زما په اند د نړۍ په ادبیاتو کې هر لیکوال، ادیب او شاعر راتلای شي، خو په نړیوالو ادبیاتو کې مهم معیار باید د پیغام او ارزښت نړیوالتوب وي، لکه انساني او بشري ارزښتونه، مینه، عاطفه او ګډ دردرونه.

فرانسوي فیلسوف او لیکوال ولټر هم د نړیوالو ادبیاتو هغه مهشوره څېره ده، چې په ګرده نړۍ کې یې اثار د مطالعې او لوستنې ارزښت لري، له همدې امله غواړم په دې اړه د خپلو څېړنو او مطالعې نچوړ وړاندې کړم.

د ستېج ډرامو فرانسوي لیکوال، مورخ او فیلسوف ولتېر چې اصلي نوم یې ماري ارونه دی، په ۱۶۹۴ زېږدیز، د فرانسې د پاریس په یوه مذهبي کورنۍ کې وزېږېد، په ۷ کلنۍ کې یې خپله مور له لاسه ورکړه او د لویې کبیر په مدرسه کې چې د عیسویانو مهمه مدرسه وه، زده کړې وکړې. په دې مدرسه کې پر مذهبي زده کړو سربېره یوناني او لاتیني ژبې یې هم زده کړې. وروسته یې پر ایتالوي، هسپانیایي او انګلیسي ژبو هم برلاسی پیدا کړ او د مطالعې ساحه یې پراخه شوه، فرانسوا ارونه د خپل پلار وصیت خلاف د لیکوالۍ فن ته مخه کړه او د تمثیل په نامه د یو ادبي انجمن غړی شو. پلار یې هیله درلوده، چې زوی یې حقوق دان شي.

ولتېر وروسته د یو قاضي سره شاګرد شو، د قضایي مسایلو سره د ولتېر اشنایي د ده احساسات لاوپاراوه، همدا علت و، چې په ۱۷۱۸ م کال کې خپله لومړنۍ تراژیدي چاپ کړه، چې وروسته د فرانسې د اکاډمۍ جایزه یې هم وګټله.

## د ولتېر زنداني کېدل:

فرانسوا ماري ارونه د هغه ذکاوت او طبیعي استعداد له مخې، چې په طبیعي ډول یې درلوده، له هر ډول خبرو سره یې توافق نه شو کولای او نه یې په پټو سترګو منل، دی په کلیسا او د کلیسا پر پرېکړو هم نیوکې کولې.

په ۱۷۱۵ زېږدیز کال د کلیسا د اورلیان کورنۍ د دوهم فلیپ پر ضد شعرونه وویل، د ده شعرونه د دې سبب شول، چې د کلیسا په خوښه نوموړی زنداني شي او په باستېل ښار کې زنداني شو، په زندان کې یې ځان ته د ولتېر مستعار نوم غوره کړ، یوولس میاشتې دی زنداني وو، خو وروسته د خپلو دوستانو او مینه والو په واسطه له زندانه خلاص شو، دی په زندان کې دومره ضیفه شوی و، چې ظاهري بڼه یې اوښتې وه، له زندانه

څه موده وروسته ولټر بېرته تروتازه شو او د پخوا په پرتله يې خپله مبارزه څو چنده زياته او ګړندۍ کړه.

ولټر د وخت د حکامو او کليسا لخو ډېر ورټل شو او په بدنظر به ورته کتل کېده، ولټر د روښانګرايي لپاره خپله مبارزه لاګړندۍ کړه، د ده احساسات هغه وخت لا په څپو شو، کله چې ادريان اوکورو مشهوره هنرمنده او ممثله د رنځ پر بستر پرېوته او د ژوند او مرګ سره لاس او ګرېوان شوه، د عيسوي دود پر اساس د زنکدن پرمهال د کليسا کشيش بايد دعا وکړي، کله چې دې هنرمندې ته کشيش راغی، د دې پرځای چې هغې ته دعا وکړي، هنر او هنرمندان يې د شرم وړ وبلل او له خدايه يې ورته وغوښتل، چې ډېر ګناهونه يې کړي، ورته بخښنه وکړي، د کشيش دې دعا د هنرمندې غبرګون وپاروله، کشيش چې ځان د رحمان خدای استازی باله، هنرمنده يې پرېښوده او کليسا ته يې د دې د بغاوت رپوټ ورکړ، د کليسا په لمسه نه يوازې دا چې دا هنرمنده له مرګ وروسته دفن نه شوه، بلکې په اور کې يې وسوځوله او کليسا يې پرې ګرمه کړه.

ولټر نور نو د کليسا او حکومت پرضد قلمي مبارزه پيل کړه، خلک يې راټول کړل او ورته يې وويل: څوک چې وايي، زما په عقيده شه، که نه د خدای په لعنت به اخته شې، هغه چا ته ورته دی، چې ماته ووايي، زما په عقيده شه، که نه، وبه دې وژنم، د فرانسې حکمرانانو د ولټر د دغسې نېشداره خبرو زغم نه لاره، د دوهم ځل لپاره يې زنداني کړ، وروسته يې تبعيد کړ او په ۱۷۲۶ کال کې انګلستان ته لاړ.

## په تبعيد کې:

کله چې ولټر انګلستان ته لاړ، هلته صنعتي انقلاب رامنځته شوی و، د روښانتيا دوره پيل شوې وه، ولسواکي وه، پارلمان، قضا، عدل او انصاف د پوهانو

او علمي کادرونو، قدر ټول هغه څه و، چې ولټېر یې ډېر تر اغېز لاندې راوستی و، په انګلستان کې د کلیسا واکمني ختمه شوې وه او دېکماتېزم ته د پای ټکی اېښودل شوی و، د پادشاه واک محدود شوی و، د پوهانو، هنرمندانو، او فلاسفاوو به ښه قدر کېده، په ځانګړي ډول د نیوټن د تدفین مراسم، چې په څومره تشریفاتو ترسره شو، ولټېر یې دومره په وجد راوست، چې استعداد یې لاوپارېده، د نمایشنامو په لیکلو یې پیل وکړ، دی د څو تنو انګلیسي شاعرانو او لیکوالو سره اشنایي پیدا کړه او په انګلیسي ژبه یې څو مقالې هم ولیکلې، چې د خلکو ډېرې خوښې شوې.

ولټېر ته په ۱۷۲۹ کال کې فرانسې ته د ستنېدو اجازه ورکړل شوه، دی بېرته فرانسې ته راستون شو او د بروتوز په نامه تراژیدي یې ولیکله، چې د لوستونکو پام یې ځان ته واړاوه.

په ۱۷۵۹ کال کې د کاندید یا ساده دل په نوم کتاب ولیکه، چې په ټوله اروپا کې خلکو خوښ کړ او د ولټېر په شهرت کې ورځ تر بلې زیاتوالی راغی.

ولټېر د کلیسا پروړاندې ډېر بې اعتنا چلند کاوه او د هغې قوانینو ته یې درناوی نه لاره، یوځل بیا د کلیسا د قهر سره مخ شو او کلیسا هغه ته د بداخلاقه او فاسد نوم ورکړ، له خلکو یې وغوښتل، چې د هغه لیکنې رد کړي او د شک په سترګه ورته وګوري، خو د فرانسې خلک نور راویښ شوي وو، د کلیسا په لمسه نه غولېدل او د ولټېر سره یې مینه هم درلوده، خو د نړۍ ټول ظاهر پرستان او شتمن خلک، مذهبي او حکومتي مسوولین د هغه دښمنان وو.

ولټېر ډېر وځورول شو، خو کله چې په ۱۷۵۰ کال کې یې خپله مېرمن چې هغه هم هنرمنده وه، له لاسه ورکړه، یوځل بیا د فرانسې نه ژینیو ته لاړ او هلته مهاجر شو.

ولټر چې په کوم ځای کې اوسېده، ګاونډیان یې اکثرا صنعتکاران و، ځکه ده هم هڅه وکړه، چې یوه تولیدي دستګاه جوړه کړي او کارګران یې وهڅول، چې ساعت جوړ کړي.

ولټر په ژینیو کې شل کاله تېر کړل، د ده تولیدات دومره پراخه شول، چې هماغلته د فرنې ولټر په نوم ښارګوټی جوړ شو، د تولید ترڅنګ ده قلمي مبارزه بیا هم پرېښنوده او خپلو ادبي او فلسفي لیکنو ته یې دوام ورکړ.

که څه هم مذهبي خلکو پر ولټر تور پورې کاوه، چې هغه له خدایه منکر دی، خو هاغسې نه و، ولټر په دې باور و، چې خدای شته، هغه به ویل، کله چې آسمان ته ګورم او هلته ستوري وینم، ما ته همدومره بس دی، چې وپوهېږم خدای شته.

ولټر د ژوند تر پایه د کلیسا او موجوده حاکمیت پرضد مبارزه وکړه او د روښانګرایي لپاره یې هلې ځلې وکړې، کلیسا هم تر پایه د ده سره دښمنه پاتې شوه.

کله چې په ۱۷۷۸ زېږدیز کې ومړ، کلیسا پرېښودله، چې د هغه مړی د عیسی مسیح د مذهب په دود ښخ شي، مړی یې د هغه د مینه والو لخوا د شپې مهال په پټه یوې کلیوالې کلیسا ته یوړل شو او د کلیسا کشیش ((مینګو)) د هغه مراسم اداء کړل او د شپې په یوولسو بجو یې په یوه کلي کې ښخ کړ، سبا له مرکزي کلیسا نه کلیوالي کلیسا ته مکتوب ورکړ شو، چې د ولټر فاتحه خواني او د ویر مراسم منع دي.

د فرانسې له انقلابه وروسته په ۱۷۹۱ کال د هغه مړی پاریس ته راوړل شو او په ډېر درناوي بیا خاورو ته وسپارل شو. د قبر پر شناخته یې لیکل شوي: ((دلته ولټر ویده دی)).

## د ولټر تاریخي او فلسفي اثار:

د فلسفې تاریخ، شرقي فلسفه، هندي فلسفه، چیني فلسفه، ایراني فلسفه، اسلامي فلسفه، یهودي فلسفه، مسیحي فلسفه، کوره یي فلسفه، د یونان فلسفه، له سقراطه وړاندې فلسفه، د لرغوني دورې فلسفه، منځني پېړۍ فلسفه، د نوي عصر فلسفه، اوولسمه پېړۍ د پوهې پېړۍ، اتلسمه پېړۍ د روښانګرایي پېړۍ او داسې نور...

## په تاریخونو کې یې مشهورو تاریخونو نومونه دا دي:

د څوارلسم لویي عصر (۱۷۵۱) میلادي

د ملتونو د دودونو او مذهبونو روح، د مقالو مجموعه.

## د ولټر د شهرت علتونه:

د کاتولیکانو د کلیسا سره مخالفت، خارق العاده ذکاوت، د مذهب او بیان د آزادۍ ملاتړ او دین له سیاست نه بیلول او د ژوند تر پایه یې په دې برخه کې مبارزه وکړه.

ولټر د نمایشنامو په لیکلو، شعر، مقالو، رومان او تاریخ لیکلو کې لوی لاس لاره، هغه له شلو زرو نه زیات لیکونه او نمایشنامې لیکلي او له دوو زرو نه زیات کتابونه او رسالې یې لیکلي دي.

## ماخذونه

ویکي انبار سایټ، د ولټر په اړه دوسیې.
په انګلیسي وېکیپېډیا کې ګڼونوال.
ویکي ګفتاورد، د ولټر په اړه لیکنې موجودې دي.
تاریخچه کوتاه از فلسفه، نایجل وار برټون.
تاریخ اروپا، نورمن دیوس.
دانشنامه بریتانیکا.